

# سلامينګ (Slamming) او کرامپنګ (Cramming)

## سلامپنګ

هره میاشت خپل د ټیلیفون بیل په دقت سره ولولئ تر څو معلومات او لګښتونه تایید کړئ. د بېلګې په توګه، که ستاسو خدمات د هغه شرکت له خوا نه وړاندې کېږي چې تاسو انتخاب کړی وي، نو دا معنا لري چې ستاسو سره سلامپنګ شوی دی. که ستاسو سره سلامپنګ شوی وي، نو تاسو مکلف نه یاست چې د سلامینګ شوي شرکت د خدماتو لپاره د لومړیو 30 ورځو پیسې ورکړئ. همدارنګه، خپل تصدیق شوی سیمه ایز مخابراتي شرکت ته ووایاست، چې تاسو غواړئ د شرکت د بدلولو ټول لګښتونه (هغه پیسې چې د شرکت د بدلولو لپاره اخېستل کېږي) ستاسو له بیل څخه لیري شي.

## کرامپنګ


که تاسي د داسې خدماتو لګښتونه ووینئ چې تاسو پکې ثبت نام نه وي کړی، لکه د ټلیفون زنګونه، په یو برنامه کې ګډون، یا د غږیز پیغام اضافي خدمات، نو ښايي ستاسو سره کرامپنګ شوی وي. تاسو د دې لګښتونو د ورکولو مسؤول نه یاست او کولای شئ د بیرته اخیستلو غوښتنه يې وکړئ. همداراز تاسو کولای شئ له خپل مخابراتي شرکت څخه غوښتنه وکړئ چې د دریمې ډلې ټول لګښتونه بند کړي، تر څو دا پیښه بیا تکرار نه شي.

## څه باید وکړئ

که ستاسو سره سلامینګ شوی وي، نو د هغه شرکت سره د خپلو خدماتو د بیرته ترلاسه کولو او د بیل سمولو لپاره لاندې ګامونه واخلئ:

1. د خپل مخابراتي شرکت سره اړیکه ونیسئ ترڅو د سلامینګ په اړه راپور ورکړئ او ستاسي خدمات بیرته هغه شرکت ته واړول شي چې تاسو انتخاب کړی و. ډاډ ترلاسه کړئ چې د خدماتو د بېرته بدلولو لپاره له تاسو څخه پیسې نه اخیستل کېږي. ممکن تاسو د کریډیټ مستحق یاست، نو کله چې زنګ وهئ، په دې اړه پوښتنه وکړئ.
2. د هغو ټولو کسانو لیست درسره وساتئ چې تاسو د دې موضوع په اړه ورسره خبرې کړې دي. نېټې، نومونه، د کارکوونکي د پېژندنې شمېره او هغه څه چې هر شخص ستاسو لپاره پرې موافقه کړې ثبت کړئ.
3. د خپلې TEAM ادارې ته اجازه ورکړئ چې ستاسو په استازيتوب شکایت ثبت کړي. دا به له دې سره مرسته وکړي چې نور کسان د سلامینګ څخه خوندي پاتې شي.

په شاتنی برخه کې دوام لري




## سلامپنګ څه شی دی؟

سلامپنګ هغه وخت پېښېږي کله چې ستاسو ثابت ټیلیفوني خدمات ستاسو له اجازې پرته بل شرکت ته واړول شي.

## کرامپنګ څه شی دی؟

کرامپنګ هغه وخت وي کله چې ستاسو د ټیلیفون پر بیل بېاجازې پیسې واچول شي.

505 Van Ness Ave.
San Francisco, CA 94102

(Toll Free) 800-848-5580
cpuc.ca.gov

California Public Utilities Commission



## د سلامینګ او کرامینګ مخنیوی

د سلامینګ او کرامینګ د مخنیوي لپاره لاندې ګامونه پورته کړئ:

- هیڅکله خپل شخصي معلومات د ټلیفون له لارې هغه نا اشنا کس ته مه ورکوئ چې تاسو ته زنګ وهي.
- له خپل شرکت څخه وغواړئ چې هغه کسان ثبت کړي چې ستاسو په حساب کې د بدلون راوستلو اجازه لري.
- مخکې له دې چې لاسلیک وکړئ، هر څه په دقت سره ولولئ. جایزې، سیالۍ، یا چکونه کېدای شي تاسو ته غلطه انګیرنه درکړي او تاسو دې ته وهڅوي چې د بدلونونو اجازه ورکړئ.
- که ستاسو ټلیفون ورک یا غلا شوی وي، نو سمدستي خپل مخابراتي شرکت ته راپور ورکړئ چې ستاسو خدمات بند کړي، ترڅو بل څوک یې ونه کاروي او ستاسو بیل لوړ نه کړي.
- تاسو مکلف نه یاست چې د پلور استازو سره په تلیفون خبرې وکړئ. د ټیلیفون شمېره په "Do Not Call" لاګ کې ثبت کړئ ترڅو د ځینو پلور استازو د زنګونو مخنیوی وشي.
- که تاسو نه غواړئ شرکت بدل کړئ، د پلور استازو له خوا هرڅه ته هو مه وایاست. شرکت ممکن هڅه وکړي چې دا د دې لپاره د ثبوت په توګه وکاروي چې تاسو د همدې حکم سره موافقه کړې ده.

**د CBO د اړیکو معلومات:**

**California Public Utilities Commission**

**په ګنو ژبو د اړیکو نیولو لاربنوود او مرستې پروګرام**

**پروګرام (TEAM)**

www.cpuc.ca.gov/team-and-changes

teamandchanges@cpuc.ca.gov

که تاسو د خپل خدماتو وړاندې کوونکي سره ستونزه نه شئ حلولای، د خپل TEAM CBO سره اړیکه ونیسئ.